# "The Khushal's concept of a sovereign state in the light of politics."

# د خوشحال د خپلواکه ریاست تصور د سیاسیاتو په رڼا کښې

Dr. Sajjad Elahi*
Naila**

**Abstract:**

Wherever people are born, they belong to a distinctive geography, nation or race. They instinctively adopt that region and that nation like their mother's milk and consider their right and authority over it. The Pashtuns, who have lived from the river Amu to Abaseen for thousands of years, have had to protect their motherland, and they have at one time or another fought for their sovereignty over it. The great sixteenth century poet, Khushal Khan Khattak has also made this idea a major subject of his writings, which will be discussed here in this article. During Khushal Khattak's time, Pashtuns came under the influence of Mughal rule, and at that time they were victims of internal conflicts as well. Khushal Khan Khattak first went to each of the Pashtun tribes in the form of Jirga's, and enlightened them of the idea of independence.

**Keywords:** Khushal-Khan- خټک politics/پښتونولي/ Dastar nama

فلسفه سیاسیات: د سیاسي شعور نوغې په انساني ژوند کښې هاغه وخت مخې ته راغلې کله چې په دۀ کښې د خاندان تصور پېدا شو او بیا د دۀ ژوند په ګډه سره تېرول شروع شول. د خاندان مثال په اول اول کښې لکه د حکومتونو وۀ د هر قام خپل ائین او دستور چلېدو. د هرې قبیلې مذهبي تصور د بل نه جدا وۀ. هم دغه خاندانونه وروستو د ملکونو په شکل کښې مخې ته راغلي دي چې نن پرې نړۍ په ملکونو او براعظمونو وېشلې شوې ده. سیاست د دوو تنو د ژوند د تېرولو طریقې نه وجود مومې او هم دغه سلسله په خاندان او په قامونو راتېرېږي. د ببدار اصلزي له مخه "که فرض کړه په دنیا کښې صرف یو انسان پاتې شو نو هم د سیاست ضرورت به وي ورته". سیاست د تنظیم او د انسانانو د معاهده عمراني نوم دے چرته چې سیاست نۀ وي هلته ټولنې د جمود او وحشي

* Lecturer Islamia college university Peshawar
** Ph.D. Scholar Department of Pashto UOP

توب ښکار وي لکه که په یو کور کښې یو مشر نۀ وي نو د هاغې کور حالت کمزورے وي یا خراب وي په نسبت د هاغې کور د کوم کور چې مشر وي. هم دغسې مثال د قامونو هم دے چې په ګډه به د خپل مخکښې ژوند لارې چارې لټوي قوانین او ائین به په پکار راولي یعنې د عمراني معاهدې تابیا به کوي او دغۀ هر څۀ د سیاست په زور کېږي. خو ولې مشر ټاکل او غوره کول که مونږه په تاریخي نظر سره وګورو نو په نړۍ کښې چې قامونو څومره هم مشران یا باچایان ټاکلي دي په دوو طریقو دغه مشر یا باچاهان ټاکلي شوي دي. یو هاغه مشر وي چې د مذهب د سیورې لاندې د اولس مشر شي او د ملک، قبیلې یا د یوې سیمې نظام چلوي او بل نظام هاغه وي چې د اولس او قام په مشترکه خوښه یو مشر منتخب شي کوم چې جمهوریت بللے شي. خو ولې عمر له د انتخاب دغه دوه طریقې د یو بل په ضد مخې ته راغلي دي. په اول اول کښې چې د انسان فکر د روشن فکرۍ سره بلد نۀ وۀ یا سیاسي شعور دومره وده نۀ وه موندلې لکه نن نو د دنیا چې څومره هم لرغوني تهذیبونه تېر شوي دي د هغوي د مشر انتخاب د مذهب په زور شوے دے نه چې د اولس په خوښه. بلکې د نمرود، فرغون مصر نه واخلې تر سکندر اعظم پورې چې څومره هم تهذیبونه تېر دي په ټولو کښې باچا ته د دیوتا، یعنې د خدا ے حېثیت حاصل وۀ. د دې په شا هم دغه سیاسي محرکات وو چې بې شعوره اولس که خپل څۀ جمهوري فکر نۀ لرو خو ولې مذهبي مشرانو او څنې جاګیر دار یا سرمایادارو زورورو اولس په مذهب دهوکه کول له دې وجې نه هغوي د باچا اطاعت په هر مذهب کښې د خدا ے اطاعت ګرځولے دے د سیاست د تاریخ په حواله بېدار اصلزے لیکي:

"په غارونو کښې د اوسېدونکو انسانانو خاندانونه وو او د سیندونو په غاړو ښاري ریاستونه او بیا که د لرغوني چین د لاوتزي 'ډاو ډي چنګ' ؤ او که د کنفیوشس 'اینالیکټس'؛ یا د لرغوني هندوستان د چاڼکیه 'ارتهه شاستره' ؤ که د لرغوني یونان د پلېټو 'ریپبلک' او د ارسټوټل 'پولیټکس'؛ او که بیا د دې نه پس د عیسائیت او د اسلام شخړې وې؛ یا بیا که د مینځنۍ دورې د جان لاک 'لبرل ازم' ؤ او که د روسو 'سوشل کنټرېکټ' او که د میکاویلي 'پرنس'؛ یا بیا دغو نه رازېږېدلے 'کېپیټل ازم' ؤ او که ورته په رد عمل کښې ولاړ مارکسي کمیون ازم؛ یا

که په پښتنه سیمه د پیر روښان قامي مبارزه وه او که د خوشحال 'دستار نامه' ـ هم داسې که مغل وو او که د شلمې صدۍ نړیوال جنګونه وو او که کالونیل ازم، چې د کښېپیټل ازم نوي تعبیرونه ئې کول؛ او یا که بیا د عدم تشدد په فلسفه ولاړ خدائي خدمتګاران وو او که د پوسټ کالونیل د دورې کالونیلسټ؛ دا هر څۀ د دې هم غمازي کوي چې د انسان د ژوند تر ټولو مهم اړخ سیاست دے. تر څو چې په دې زمکه اخري دوه انسانان هم ساه اخلي نو د هغوي انساني حېثیتونه به هغوي نه د سیاسي کښېدو تقاضه کوي او دا ځکه چې انسانان په کومه زمکه ساه اخلي او په کومه دنیا کښې دوي اوسېږي نو په دې باندې خپله خصمانه هم کوي او هم دا ضرورت هغه په شراکت مجبوري او د دې شراکت لار سیاست دے."[1]

سیاست خو په فراخه معنی کښې د غوره ژوند د پاره لارې چارې لټول دي خو دغه لارې چارې بې له ملوکه یا د مشر د ټاکلو یا د تنظیمي ساخت نه بغېر نۀ کېږي د دې وجې نه په هره ټولنه کښې د یو مشر ضرورت خامخا وي هغه خپله ټولنه په صحیح معنو سره لیډ کړي او کوم څوک چې خپله ټولنه په صحیح ډول باندې لیډ کړي نو هغه د اولسونو د پاره د ائیډیل کردار په ټوګه وګرځي د کوم چې مراد مونږه بشپړه سړے اخلو. د دغه لیډ کولو د پاره وخت په وخت فلسفیانو ځنې معیارونه وضع کړي دي او په خیالي توګه ئې خپل اولس ته خپل هیرو یعنې ائیډیل کردار ښودلے دے چې ائیډیل کردار به په کوم ډول وي. دغه کردارونه هسې خو د هر چا د خپلې خپلې نظرئې ترمخه په وجود کښې راغلي دي لکه د بدها تصور د مابعدالطبعیاتو په نظریه کښې، د افلاطون کردار د ریاست د چلونکي فلسفي په نظریه کښې، د انسان کامل کردار په کائناتو کښې د وحدانیت تصور یا خلافت نظریه کښېې او د خوشحال خان خټک د یو قام د مشرۍ په تاثر کښې مخې ته راغلے دے. زما موضوع هم دا د خوشحال خټک کردار دے چې د دغه بشپړه سړي د پاره خوشحال کوم رنګ سیاسي سوچ لري.

د خوشحال سیاسي سوچ باید په دوه ډوله تقسیم شي یو هغه مرد یا سړے چې د هغۀ په شاعرۍ کښې دے او بل هم دغه مرد یا سړے چې د دستار قابل وګرځولے شي یعنې په دستارنامه کښې دے.. له دې وجې سیاست هر هغه ځاے کاروکوي چرته چې اصول پکاریږي لارې چارې ټاکل کېږي، اولسونه منظم کول وي، لښکرونه چلول وي او دغه هر څۀ

د سیاست په زور کېږي. ځکه خو خوشحال چې د مرد خبره کوي نو وائي چې:

"چــــې د بـــــل تــــر لاســــه ورغـــــے د بـــــل شـــــو
مـــــرد بـــــه خپـــــل لـــــري د خپـــــل فکـــــر زمـــــام
د لښـــــکرو کـــــار ځـــــۀ هســـــې اســـــان نـــــه دے
چـــــې بـــــه هـــــر ســـــړے پـــــرې مـــــومي انتظـــــام"[2]

دغه فکر کول او دغه انتظام ته لارې سمول هغه اصول دي چې د فلسفه سیاست نه بغېر کله هم ممکن نۀ ده ځکه چې هم په دې انتظام ملکونه چلېږي.

*"سیاست انسانوں کے اپس میں معلات کے سلجھاوسے وجود میں ایاہے۔ جس کی وجہ سے زوراور کا پانی یا گھاس پہ تسلط قایم نہیں رہااور جنگل سب انسانوں کی جنم بھومی قرار دی گیی"*[3]

ژباړه: سیاست د انسانانو په مینځ کښې د معاملاتو د سمون د پاره په وجود کښې راغلے دے د کومې په وجه چې د زورور په اوبو او ګیا باندې تسلط قایم پاتې نۀ شو او ځنګل د ټولو شریک کور وګرځېدو.

د دې د پاره افلاطون ري پبلک لیکلے ؤ، میکاولي "دي پرنس" کیکاوس قابوس نامه او خوشحال خان خټک دستارنامه ولیکلو. د خوشحال دستارنامه کښې د دستار سړے د خوشحال هغه ائیډیل کردار دے چې په یو وخت ننګیال، مېړنے، توروزن، جنګیالے، فرهنګیالے او علامتي توګه باز، شاهین او زمرے دے. خو چې دغه هر څۀ باندې پوره دے نو خوشحال ورته په دستارنامه کښې شل هنرونه او شل خصلتونه هم د دې د پاره ټاکلي دي چې دا به هم زده کوي ولې چې دغه پورته خصلتونه لرونکے سړے به د خپلې ټولنې مشري کوي خپل ملک به چلوي د قام واګې به لاس کښې نیسي چې د هغې د پاره ورته خوشحال د سیاست زده کړه مهم شرط ګرځولے دے او هر کله چې په دغه شرط باندې پوره وخېژي نو سردار شي، د قام د سترګو تور شي د دستار سړے شي او د خوشحال رغ کړے شوے بشپړه سړے شي. خو ولې کوم ځاے کښې چې خوشحال د سردار یا د ملوک د ټاکنې خبره کوي نو په صحیح توګه باندې د خلقو د خوښې نه پس شرط ږدي چې هغه به د اولس مشر وي. یعنې خوشحال که د ملوکیت قایله دے نو هم ملوک په جمهوري طریقه باندې د اولس مشر ګرځول غواړي. لکه وائي چې:

"د بادشاه په سر تاج، د امیر په سر دستار کشیش شي. هر چې

قابل او لایق دي کار په هغهٔ پسندهٔ، په ناقابل پسندهٔ نهٔ شي. هر چې په اتفاق دستار د هغه شخص په سر کېږدي هغه اطاعت اختیار کړه. د دستار شرم په دواړه لوریه لازم شي اول په هغو چې دستار د هغه شخص په سر کېږدي په هغو چې دستار د لویې په سر کا."[4]

"چې ولایت، سیاست ظاهر موقوف په دا حصائیل دي که دا پکښې نهٔ وي کار ئې انتظام نهٔ نیسي، خطر او اختلال ترې تولد شي نقصان د دې خصلت په ترک کښې ادا کېږي. د سیاست ظاهري مراتب دي په دوه تنه کښې یو سردار وي، چې امیر بالهٔ شي په کالهٔ کښې د کالهٔ څښتن امیر دے."[5]

دلته د خو ورومبې حوالې او دوېمې حوالې نه د خوشحال جمهوري افکار په صحیح ډول څرګند دي اول دا چې دستار یا تاج به د اهل په سر کېښودې شي خو په اتفاق. دغه اتفاق د نن ورځې جمهوریت دے. اګر چې د نن ورخت د ټاکنې طریقه کار د ووټ په لار کېږي. خو جمهوریت کښې ووټ شرط نهٔ دے بلکې د اولس رایه په اتفاق سره اخستل دي. دوېم خوشحال په اصل کښې دستار د حکومت یو سمبول ګرځوي. د احترام چې په هغه چا لازم ګرځوي چې هغوي مشر ټاکي نو هم هغسې ئې په هغه چا هم احترام لازم کړے دے د چا چې سرداري یا ملوکیت په سر شوے دے. چې هغه خپل ټولنه په صحیح توګه باندې لیډ کړي. په دې حقله سمندر یوسفزے وائي:

د ارسطو په وېنا انسان فطرتاً سیاسي حېوان دے انساني ژوند د یوې ټولنې متقاضي وي ځکه چې انسان په یوائې صورت خپ ضروریات و خواهشات نهٔ شي پوره کولې. د دغې ضرورت تر مخه انسان مجبوره وي چې په یوه منظمه ټولنه یا معاشره کښې ژوند تېر کړي. د محدود وسایلو او لا محدود خواهشاتو او بېلابېلو نظریاتو په سوب انسان په دې هڅه کښې وي چې ځانله یوه ټولنه یا خپل چاپېرچل کښې اختیاري حېثیت پېدا کړي "[6]

هم په دغه منشا خوشحال خان خټک ټوله دستارنامه لیکلې ده چې دغه نتیجه ئې اخذ کېږي چې بغېر د سیاست نه یو قام کله هم خپل مشر نهٔ شي ټاکلې او چې د کوم قام مشر نهٔ وي هلته نظام نهٔ چلېږي او چې چرته نظام نهٔ چلېږي هلته انسان په ځان ځاني کښې د وحشت سره مخ وي.

د خوشحال بشپړه سړے پښتون سردار دے او سردار په پښتنه معاشره کښې د دستار سړے وي د هغهٔ د پاره خوشحال د دستارنامې غوندې کتاب کښې دومره ګران شرايط ځکه وضع کړي دي چې د خوشحال په ژور فکر کښې دا ممکن ده چې د پښتنو يو وطن به سره ودانېږي د کومې د پاره چې به د بشپړسړي ضرورت پېښېږي. داسې سړے به وي چې په يو وخت به جنګيالے، فرهنګيالے، تُورزن، مېړنے ، ننګيالے او شاهين او زمري غوندې وي خو د دې هر څهٔ نه پس چې وطن تر لاسه کړي يا خپلواکي ترلاسه کړي نو بيا به د دستارنامې شل هنرونه او شل خصلتونه په ځان کښې شته کوي ځکه چې هغه به د دومره لوي قام مشري کوي. زهٔ په يوه حواله دغه د خوشحال خوب ګڼم يا پېشن ګوئي ګڼم او هم امکان دے چې د خوشحال دغه سياسي پېشن ګوئي چې پښتانهٔ ځانته خپل ملوک پېدا کړي په چا چې به د بشپړه سړي اطلاق کېږي. د دې پاره خوشحال دغه بشپړه سړي ته د دستارنامې شوارلسم خصلت ور په ګوته کړے دے چې دے به د ملک انتظام په کوم ډول چلوي.

په دا خصلت کښې د کور د وينزې نه واخلې تر خپلې ښځې پورې او د فوجدار، مير لښکر ، سپه سالارانو ،د ملک زمينداران ، ملکان، د لارو نګهبانان ، څوکيداران، قاضي، مفتي، محتسب، کوتوال لکه ترتيب انتظام پورې به دغه د دستار سړے سياسي بصيرت نه کار اخلي او هر څهٔ به نظر کښې ساتي. زهٔ يو وار بيا دا خبره تکرار کړم چې د خوشحال د شاعرۍ هيرو مرد مېدان دے خو د دستارنامې له مخه دغه سړے ملوک دے ولې چې مردمېدان خپلواکي لاس ته راوړي او د دستار سړے دغه خپلواکي برقراره ساتي. هم دغسې اولسم خصلت کښې د غېرت په حقله وائي چې ! غېرت په درې توکه پکار دے. اول په دين مذهب، دوېم په ملک او درېم په خپل کور (محل) وغېره کښې. هر کله چې مونږه د دوېم توکي د غېرت جاج اخلو نو د ملک د امن او مان خبره مينځ ته راوړي. لکه وائي چې :

> "که د دهٔ په ملک باغي پېدا شو د دهٔ رعيت ازاروي يا ئې مال په تاخت
> په تاراج وړي دا ځاے غېرت بايده دے" [7]

سياسي اپروچ کښې چې هر کله مونږه د خوشحال د دور جايزه اخلو نو دغه وخت په نړيوال کچ باندې جديد طرز کوم ملکونه نهٔ وو ساز شوي. هر چرته د زور او جبر په زور واړهٔ قامونه فتح کېدل. خصوصاً دغه وخت برطانيه د ملوکيت تاج په سر کړے وهٔ او ټولې نړۍ ته ئې د سکنجه کولو اراده وه. ولې چې دغه وخت پرتګاليانو هندوستان سره خپل تګ راتګ

شروع کړے وۀ. د خوشحال ملک د ترلاسه کولو اپروچ په دوه ډوله دے. يو دا چې په قامي بنياد خپله خپله جغرافيه په خپل اختيار کښې لرل. او د دې نه پس بيا دوېم اپروچ د مشرقي روايتي خلافت دے چې ګوندې باچا مړ شي نو زوے دې ئې خامخا د ملک سردار وي. خو خوشحال چې نوې خبره کوي هغه دا ده چې که چرې هيڅوک په خاندان کښې نۀ وي باچا دې څوک اهل د ولي عهد په ځوکۍ تيار وساتي. لکه وائي چې:

"که زوے نۀ لري، ورور، ورارۀ. که دا هم نۀ وي ترۀ تربو او که دا هم نۀ وي يو بل اصيل زاده چې په ځاے ئې د فرزند لوے کړے وي "[8]

د خوشحال د دا قسمه تصور د باره کښې پوهاند شاه ولي ليکي:

"د اروابښاد روهي د وېنا له مخې د خوشحال خان په عصر کښې سياسي ګوندونه نۀ و موجود. خوشحال هم د کوم ګوند يا حزب مشر نۀ و او نۀ ئې تپاکلي برنامه او مرام نامه درلوده."[9]

خو بيا هم چې د خوشحال دغه هر څۀ مونږه روايتي وګڼو او ځکه چې The prince هم د خپل جانشين د پاره رغ کړې شوے دے او د کيکاوس قابوس نامه هم. خو چې دغه هر څۀ پرته د پښتون وطن خبره کوو نو د خوشحال اپروچ بالکل د خلافت ملک نۀ دے بلکې په قامي بنياد راجوړ د خپلواکۍ يو وطن دے. او د دغه وطن د پاره وائي چې:

"يـــا ســـردار لــــره خپـــل عقـــل
يــــا وزيــــر صــــاحب تــــدبير
کــــه هــــر څــــو ئــــې عقـــل ډېــــر وي
بيــــا هــــم بويــــه ښــــۀ وزيــــر
ښــــۀ ســــردار لــــره دوه کــــاره
دا يــــم بويــــه ښــــۀ ضــــمير"[10]

د خوشحال د قاميت تصور که په نړۍ کښې نۀ هم نو په دې منطقه کښې په اول ځل د خپلې خاورې د خپلواکۍ د پاره په وجود کښې راوستې شوے دے. د کومې د پاره چې خوشحال خان خټک بار بار د يو ځانګړې او خپلې جغرافيې زکر کوي. او غواړم چې هم په دغه تناظر کښې د خوشحال دغه شعر باندې دا مقاله سر ته ورسوم.

"اولســـــونه چـــې ســـــند وبلـــــه وکـــــا
بادشـــاهان ورتـــه ســـجود کانـــدي اختیـــار

پښـــتانهٔ چـــې نـــور ځـــهٔ فکـــر کـــا نـــا پوه دي
بـــې لـــه تُـــورې خلاصـــې نشـــته پـــه بـــل کـــار

بلـــه هـــیڅ لیـــدلې نـــهٔ شـــي پـــه دا میـــنځ کښـــې
یـــا مغـــل د مینځـــه ورک یـــا پښـــتو خـــوار

درســـت پښـــتو لـــه قنـــدهاره تـــر اټـــک
ســـره یـــو د ننـــګ پـــه کـــار پـــټ او اشـــکار"[11]

## حوالې

[1] :اصلزے، بېدار، غنيات ، مؤلف سجاد ژوندون، سياستمدار غني خان، باچاخان څېړنيز مرکز پېښور، 2019ء مخ32

[2] :رسا ، سېدالرسول، ارمغان خوشحال، دريم چاپ ، يونيورستي بک اېجنسي ، 2009 ء، مخ15

[3] :ولڈيورنٹ، مترجم جميل ڈو گر،انسانی تہذیب، فکشن ہاوس لاہور،۲۰۰۸،ص ۲۳

[4] : ختټک خوشحال خان، دستار نامه، څېړنکار ډاکټر عبدالحکيم شاه ختټک، بهير مطبعه کابل، 2018ء، مخ83

[5] : هم دا کتاب ، مخ261

[6] : يوسفزے، ډاکټر سمندر، خوشحال او سياسيات، اعراف پرنټرز ۲۰۱۸، مخ ۲۲

[7] : هم دا کتاب مخ 319

[8] : هم دا کتاب، مخ 309

[9] : شاه ولي، پوهاند ، د خوشحال پېژندنه، ختيځ خپروندويه ټولنه، ۱۳۹۴ل، مخ 212

[10] :ارمغان خوشحال، مخ 201

[11] : هم دا کتاب مخ، 17,18